UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
Briefing to the Security Council
http://unama.unmissions.org

# ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سرمنشي د ځانګړي استازي، ښاغلي نیکولاس هیسم راپور

[په هغه بڼه، چې وړاندې شوی]

## نیویارک، ۲۰۱۵ کال د مارچ ۱۶مه

***

ښاغلی رئیس او د شورا غړو،

په ټول افغانستان کې وروستیو واورو ښویېدنو او سېلابونو، چې له ۲۰۰ څخه د زیاتو کسانو د مړینې لامل شول، موږ ته دا راپه یاد کړه چې دا هېواد نه یوازې د انساني شخړو بیه پرې کوي، بلکې د طبیعي پېښو له پرله‌پسې زیانونو له امله هم زیان منونکی دی. ملګري ملتونه زیانمنو کورنیو ته تسلیت وایي او له هغوی سره خپله ژوره خواخوږي څرګندوي او د حکومت او بشردوستانه ژغورنې د کارکوونکو هڅې ستایي، چې په ډېرو سختو شرایطو کې یې د ژوندي پاتې شویو کسانو د مرستې او د بنسټیزو خدمتونو د بیا وړاندې کولو لپاره کار کړی دی. د ملګرو ملتونو بشردوستانه سیستم د حکومت په غوښتنه بیړنۍ مرستې برابرې کړې او چمتو دی چې د اوږدمهاله بیا رغونې لپاره نورې مرستې هم ورسوي.

ښاغلی رئیس،

دې شورا ته زما له وروستي راپور راهیسې یو شمېر د پام وړ بدلونونو په افغانستان کې د سولې د یو فعال بهیر لپاره نوې هیلې راټوکولې دي. سربېره پر دې، د ملي یووالي حکومت د یو شمېر وزارتونو لپاره د وزیرانو په نومولو او تائیدولو پیل کړی، او افغانستان او پاکستان پر سوله، سوداګرۍ او امنیت باندې متمرکز خورا رغنده ډیالوګ ترسره کړی دی.

دغه مثبت بدلونونه د ولسمشر اشرف غني او اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله د هڅو یو ثبوت دی. د دوی دواړو همکاره رهبري د سولې د هر ډول خبرو د پرمختګ، د هر اړخیزو ټاکنیزو اصلاحاتو د راوستلو او د اقتصاد پر پښو درولو په موخه د اړینو بدلونو د تطبیق لپاره اړینه بلل کېږي.

یوناما د همدې موخې لپاره، یو ځل بیا له سیاسي مشرانو څخه غوښتنه کوي چې د حکومت د لوړپوړو چارواکو د ګمارنې بهیر بشپړ کړي. په ځانګړې توګه، دا ماموریت د لوړپوړو قضایي چارواکو ټاکل اړین بولي، څو د قانون د حاکمیت د پیاوړتیا او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې وروستۍ هڅې لا زیاتې او پیاوړې شي. یوناما ټینګار کوي چې یوه متنوع او مسلکي اداره، چې پکې د ښځو پیاوړې استازیتوب هم وي، د هغو ډېرو ننګونو د حل لپاره اړینه ده چې په مخې کې پرتې دي.

ښاغلی رئیس،

په تېرو اونیو کې د افغانستان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د احتمالي خبرو اترو په اړه راپورونه ورکول شول. د یوناما ارزونه دا ده چې، اوس داسې شرایط برابر شوي چې کېدای شي د سولې د خبرو اترو د پیاوړتیا لپاره مناسب وخت وي. خو دواړو اړخونو ته باید کافي فرصت ورکړل شي څو تر هغې کچې د باور فضاء رامنځته کړي چې له مخې یې یو ګډ تفاهم ته ورسېږي، او په پایله کې دې نتیجې ته ورسېږي چې سوله د افغانستان لپاره یوازینۍ غوره او حقیقي لاره ده، او دا درک کړي چې پوځي بریا نه یوازې لرې ممکنه ده، بلکې د دوامدار ملي ټولنیز یوځای والي لپاره هم غوره حل نه دی.

د سولې بهیرونه نازک وي او بهرنۍ بې ثباتۍ پر وړاندې خورا زیان منونکي وي. دا بهیرونه ډېر زیات صبر او حوصلې او دوامداره ملاتړ ته اړتیا لري، او د دې لپاره باید نړیوال ملاتړ همغږی او منظم وي. یوه دوامداره سوله هغه وخت ټینګیدای شي چې بهیر دا بهیر ټولګډونه وي او د تېرو لسو کلونو په ترڅ کې د افغانستان مهمې لاسته راوړنې په کې له پامه ونه غورځول شي. یوناما به له حکومت سره په ګډه مشوره، د دې شخړې له ټولو اړخونو سره خپلو خبرو اترو ته دوام ورکړي څو ګډ تفاهم ته په رسېدلو کې ورسره مرسته وکړي.

همدارنګه زه دا تائیدوم چې یوناما له طالبانو سره بشري مرستو ته د خلکو لاسرسي او بشري حقونو، په تېره بیا د ملکي وګړو د خوندیتوب په اړه له طالبانو سره ډانګ پییلو خبرو اترو ته دوام ورکوي. دا ماموریت په همدې تړاو یادونه کوي چې، په پایله کې یې د کتلوي معافیت ټیمونو ته په هلمند ولایت کې یو ځل بیا د فعالیت اجازه ورکړل شوې ده.

ښاغلی رئیس،

د سیاسي هوکړې یوه نه بیلېدونکې برخه چې له مخې یې د ملي یووالی حکومت رامنځته شو، د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون جوړولو لپاره شوې ژمنه ده. هر اړخیز ټاکنیز اصلاحات به په دغه دیموکراتیک بهیر باندې د افغانانو د باور بېرته زیاتولو او د سیاسي ټیکاو پیاوړي کولو لپاره اړین وي. یوناما له همدې امله، په لنډ وخت کې د دې کمیسیون د جوړولو لپاره د ولسمشر غني د ژمنې تازه کولو هرکلی کوي. موږ په کلکه له افغان چارواکو غوښتنه کوو څو ټاکنیز مهالویش واضح کړي، د درغلی راکمولو تدابیر زیات کړي، د ټاکنو پایښت زیات کړي او په شفافه او مشورتي توګه له افغانانو سره په ګډه دا چاره پرمخ یوسي.

ښاغلی رئیس،

ما په تېرو میاشتو کې د افغانستان ګاونډیو هېوادونو ته یو شمېر سفرونه کړې دي او د ایران، پاکستان او ازبکستان له لوړ پوړو چارواکو سره مې لیدنې کتنې کړې دي. په خوښۍ سره وایم چې په دغو ټولو لیدنو کې ډېرو ګډونوالو د سیمه‌ییزې همکارۍ د پیاوړتیا پر اهمیت اعتراف کړی او ټینګار کوي چې چمتو دي، په افغانستان کې رغنده رول ولوبوي او دا درک کوي چې ثبات او اقتصادي همکاري په پای کې د ګډو متقابلو ګټو موضوع ده.

سربېره پر دې، د افغانانو ترمنځ د سولې منظمو خبرو اترو لپاره، د افغانستان حاکمیت ته په بشپړ درناوي سره، پیاوړی سیمه‌ییز ملاتړ اړین دی. په همدې تړاو، په وروستیو میاشتو کې د افغانستان او پاکستان د مشرانو لخوا د ترسره شویو وروستیو مثبتو نوښتونو یادونه کوو.

ښاغلی رئیس،

د افغانستان اقتصادي وضعیت د ژورې اندیښنې وړ دی. د حکومت پر ځان بسیاینې اجنډا چې د لندن په وروستي کنفرانس کې وړاندې شوه، په سمه توګه د خپلې لیدلوري له مخې وستایل شوه. اوس اړتیا ده چې دا اجنډا پلې شي څو حکومت وکولای شي خپل عواید لا زیات کړي، د خدمتونو وړاندې کولو ظرفیت لوړ کړي او کاري فرصتونه رامنځته کړي.

که څه هم د تېرو څو اونیو بارانونو او واورې اورېدنو ځینې اندېښنې کمې کړې چې افغانستان به په روان دوبي کې د سختې وچکالۍ له اغېزو سره مخ شي، خو بیا هم اړتیا شته چې د مخنیوي تدابیر ونیول شي څو تر ټولو زیاتو زیان منونکو کسانو سره مرسته وشي.

ښاغلی رئیس،

یوناما په تکرار سره د ملکي مرګ ژوبلې د دوامداره زیاتوالي په هکله خپلې ژورې اندیښنې په تکرار سره څرګندې کړې دي. یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي مرګ ژوبلې شمېره له ۱۰۰۰۰ تنو څخه زیاته ښودلې، چې د یوناما لخوا په ۲۰۰۹ کال کې د سیستماتیکې څارنې له پیل راهیسې د ملکي مرګ ژوبلې تر ټولو لوړه شمېره ده. د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې اصلي لامل د ځمکنیو جګړو زیاتوالی دی، چې پکې افغان ځواکونه او ترهګریزې ډلې په ملکي سیمو باندې غیر مستقیمې ډزې کوي. د جګړې دواړه لوري باید د خپلو کړنو پر اغېزو وپوهېږي، مسؤولیت یې ومني، هغه ارزښتونه رعایت کړي چې دوی د ساتلو ادعا کوي، او د ملکیانو خوندیتوب خپل لومړیتوب وګڼي. موږ باید په ۲۰۱۵ کال کې د ملکیانو په مرګ ژوبله کې د واقعي کمښت په لور اساسي ګامونه ووینو.

یوناما د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمیشنر سره په ګډه، د فبرورۍ په پای کې، په حکومتي زندانونو کې د جګړې اړوند زندانیانو د ربړونې او بد چلند په اړه خپل دریم راپور خپور کړ. په دغه راپور کې موندل شوې چې د مرکه شوو ټولو زندانیانو یو پر دریمه برخې سره بد چلند شوی او ربړول شوي دي. که څه هم د راپور ورکونې د تېرې مودې په پرتله د ربړونې په پېښو کې ۴۹ سلنه کموالی لیدل کېږي، خو لا هم د پراخې او پټې ځورونې د مخنیوي لپاره زیات کار پاتې دی چې باید ترسره شي. موږ د دغو کړنو د پای ته رسولو لپاره د نوې ادارې د وروستۍ ژمنتیا، په ځانګړې توګه د ربړونې د له منځه وړلو لپاره د دوی د ملي پلان د وړاندې کولو د اعلان، هرکلی کوو. یوناما له حکومت څخه غوښتنه کوي چې د دې کړنو پر وړاندې د صفر زغم واضح پیغام ورکړي، عاملین یې د قانون منګولو ته وسپاري او په دې توګه معافیت ته د پای ټکی کېږدي.

ښاغلی رئیس،

په هلمند او کونړ ولایتونو کې وروستي پوځي عملیات د دې ښکارندويي کوي چې افغان ځواکونو خپل د پلان جوړونې او عملیاتو ترسره کولو ظرفیت لوړ کړی او اوس کولای شي، د نړیوالو ځواکونو له مستقیمې محاربوي مرستې پرته د لوېې کچې عملیات ترسره کړي. دا پرمختګ هیله بښونکی دی، که څه هم موږ تمه لرو چې د جګړې په راتلونکي موسم کې به جګړه زیاته شي، ځکه یاغیان هڅه کوي د خپلې خاورې د ساتلو په موخه د افغان امنیتي ځواکونو وړتیا وازمویي.

وروستیو راپورونو ښودلې چې د عراق اسلامي دولت، چې په سیمه کې ورته داعش ویل کېږي، په افغانستان کې ځای پیدا کړی دی. د یوناما ارزونه دا ده چې د دې ډلې شتون اندېښمنوونکی دی، خو د داعش اهمیت په سیمه کې د هغې په داخلي وړتیاوو پورې محدود نه دی، بلکې په دې کې دی چې دا ډله څنګه کولای شي یاغي جلا شوي کوچنۍ ډلې تر یوه بل بدیل بېرغ لاندې راټولې کړي.

ښاغلی رئیس،

ښاغلی رئیس، یوناما به د ماموریت د اساسي دندې د دوام په یادولو سره، خپلې هڅې په هغه شکل دوامداره وساتي چې د افغانستان له حاکمیت سره سمون ولري، څو خپل د منځګړیتوب خدمتونه وړاندې کړي، بشري حقونو ته وده ورکړي، او همدارنګه د افغانستان د حکومت له خوا ټاکل شوو لومړیتوبونو لپاره د نړیوالې ټولنې منظم ملاتړ راجلب کړي. موږ چمتو یو چې د یوناما، تمویلوونکو او نړیوالې ټولنې د رول په اړه په پراخ بحث کې بشپړ ګډون وکړو څکه چې افغانستان د"بدلون لسیزې" پړاو ته داخلیږي.

له یوې اونۍ څخه په کمه موده کې به افغانان نوروز ونمانځي، او دا هغه ورځ ده چې په دې سیمه کې نوی کال پیلیږي او په پراخه توګه د هیلې او نوي والي د سمبول په توګه پېژندل کیږي. له همدې امله زه دا فرصت غنیمت ګڼم چې خپل همکار سفیر تنین او ټولو افغانانو ته د یو سوله ییز ۱۳۹۵ کال هیله څرګنده کړم. زما ژوره هیله دا ده چې سږ کال به د سولې پر لور ملموس پرمختګ ولرو.

ډېره مننه.

***